سلام خان ۲۰۱۲/۰۱/۳۰

# با ثباته او ځواکمن افغانستان د ټولې نړۍ په ګټه دی

د افغانستان ولسمشر حامد کرزی د سلواغې په پنځمه ترکمنستان او له هغه هیواده اروپايي هیوادونو ته سفر وکړ او ورېم سهار کابل ته بیرته راستون شو، د ولسمشرحامد کرزي وروستی سفر او له درییو هیوادونو سره د اوږدمهاله سندونو لاسلیکولو وښوده، چې نړۍ لا هم د افغانستان مرستی او ملاتړ ته ژمنه ده. حامد کرزي په دغه سفر کی له فرانسی سره د(دوستی او همکاری معاهده) له ایټالیا سره د (د همکاریو او دوه اړخیز مشارکت موافقتنامه) او له انګلستان سره د شلو کلونو لپاره د (دوامداره ستراتیژیکو اړیکو سند) لاسلیک کړ،اروپا ته د ولسمشر کرزي وروستی سفر وښوده، چې نړۍ لا هم له افغانستان سره مرستو او همکارۍ ته ژمنه ده.له افغانستان څخه د نړۍ د هیوادونو او په ځانګړی توګه د امریکا ترڅنګ د انګلستان، فرانسی او ایټالیا د اوږدمهاله همکاریو د دوام ژمنه، د ولسمشر حامد کرزي د حکومت لپاره له سیاسي پلوه لویه لاسته راوړنه ده، د یادو اوږدمهالو او ستراتیژیکو همکاریو د سندونو لاسلیک او ژمنی د نړیوالی ټولنی د مرستو د دوام ډاډ کیدای شي. د اوږدمهاله همکاریو د سندونو مواد ښیي، چې نړۍ تر ۲۰۱٤ کال وروسته هم له افغانستان سره مرستی او همکارۍ ته لیواله ده چې دغه سفر له سیاسي پلوه څرګنده کړه، چې اوسمهال افغانستان د دی وړتیا لري، چې د نړۍ له لویو قدرتونو سره د ستراتیژیکو همکاریو سندونه لاسلیک کړي. څه موده وړاندی افغانستان له هند سره هم د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک کړ او د امریکا او افغانستان ترمنځ هم د ستراتیژیکو همکاریو د سند پر سر له تیر شاوخوا یو کال راهیسی خبری روانی دي، خو تر اوسه لاسلیک شوی نه دی،له درییو اروپايي هیوادونو سره د اوږمهاله همکاریو د سندونو په لاسلیک سره افغانستان د سیمی او نورو هیوادونو ترمنځ په خپلو اړیکو کی یو ډول توازن رامنځته کړ، په نتجه کی ددغو سندونو دموادو عملی کیدل او تری ګټه اخیستل دافغان چارواکو په سیاسی ښه مدیریت پوری اړه لری.

که څه هم دسیاسی چارو ځینی کار پوهان دولسمشر کرزي په وروستي سفر کی له درییو اروپايي هیوادونو سره د لاسلیک شوو اوږدمهاله همکاریو د سندونو د ژمنو پر عملي کیدو ډیر باوري نه دی، خو وایي، چې دغه تړونونه بی ګټی هم نه دي،خو هغوی له ټاکلی مودی یو کال وړاندی له افغانستان څخه د فرانسوي سرتیرو وتنه د ملګرو ملتونو او ناټو د نورمونو خلاف کار بولي، چې په وینا یی ولسمشر حامد کرزي هم ورسره موافقه کړی ده. د فرانسی ولسمشر دغه هیواد ته د کرزي د سفر پر مهال وویل، چې فرانسه به په ۲۰۱۳ کال کی خپل سرتیري له افغانستان څخه وباسي.

ولی د بریتانیی لومړي وزیردفرانسی برخلاف په ډاګه کړی ده، چې له ټاکل شوی مهالویش مخکی له افغانستان څخه د خپلو سرتیرو د ایستلو اراده نه لري، د بریتانیا لومړي وزیر ډیویډ کمیرون دغه څرګندونی په لندن کی له ولسمشر حامدکرزي سره د اوږود مهاله ستراتیژیکو همکاریو پر سند له لاسلیک وروسته ګډی خبري غونډی ته د وینا پر مهال وکړی،هغه زیاته کړه، چې دوی غواړي له ټاکلي مهالویش سره سم تر ۲۰۱٤ زیږدیز کاله پوری خپل سرتیري په افغانستان کی پریږدي، خو له هغه وروسته خپلو مرستو ته دوام ورکوي، بریتانیا په افغانستان کی اوسمهال شاوخوا ۹۵۰۰ سرتیري لري، چې په هلمند ولایت کی میشت دي او تر اوسه یی ۳۹۷ سرتیري وژل شوي دي،د ناټو له خوا له اعلان شوي مهالویش سره سم د ۲۰۱٤ زیږدیز کال په پای کی به له افغانستان څخه ټول هغه سرتیري ووځي، چې په عملیاتو کی برخه اخلي، خو ځیني هغه سرتیري به پاتی شي، چې افغان ځواکونو ته روزنه ورکوي، د بریتانیا لومړي وزیر ډیویډ کمیرون ویلی دی، چې دوی له افغانستان سره پیاوړی او قوي اړیکی غواړي؛ ځکه چې یو با ثباته او ځواکمن افغانستان د ټولی نړۍ په ګټه دی،نوموړي زیاته کړه، چې له د ۲۰۱٤ زیږدیز کال څخه مخکی له افغانستان څخه د خپلو سرتیرو د ایستلو هیڅ اراده نه لري او له دغه کال وروسته به هم له افغانستان سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي، کمیرون دغه څرګندونی په داسی حال کی کړی، چې دوه ورځی مخکی د فرانسی ولسمشر نیکولاس سرکوزي وویل، چې دوی له ټاکلي مهالویش څخه یو کال مخکی (۲۰۱۳) خپل ټول سرتیري له افغانستان څخه باسي،فرانسی دغه پریکړه وروسته له هغه وکړه، چې څو ورځی مخکی د ملي اردو یوه سرتیري په کاپیسا ولایت کی څلور فرانسوي سرتیري و وژل او ۱۷ نور یی ټپیان کړل، فرانسه په افغانستان کی څلور زره سرتیري لرل، چې څلور سوه یی تیر کال و ایستل او ټاکل شوی، چې زر سرتیري په روان کال کی وباسي او پاتی نور یی د ۲۰۱۳ کال تر وروستیو په افغانستان کی پاتی وي.

فرانسی خپل ۸۲ سرتیري په افغانستان کی له لاسه ورکړي دي،نیویارک ټایمز ورځپانی تر دی سرلیک لاندی:چې فرانسه له ناټو څخه جلا کیږي، له افغانستان څخه وتل چټکوي- یوه مقاله لیکلی او د پیل په کرښو کی یی راغلي دی چې، د فرانسی جمهوررئیس نیکولاس سارکوزي د جمعی په ورځ اعلان وکړ چې فرانسه به له ناټو سره خپل اتحاد مات کړي او له افغانستان څخه به د خپلو عسکرو په ایستلو کی عجله وکړي، فرانسه به له دی هیواد څخه خپل محاربوي


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځواکونه له ټاکلی نیټی څخه یو کال مخکی وباسي. سارکوزي دغه راز ویلی دی چی، دی او جمهور رئیس حامد کرزی دواړه به له ناټو څخه وغواړي چی افغان ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو انتقال چټک کړي، د فرانسی جمهور رئیس سارکوزي داهم ویلی دی چی ، د افغانستان ملي پوځ کی د طالبانو د نفوذ سطحه کمه کنټل شوی. ده ونه ویل، چی په دی وروستیو کی د یوه افغان عسکر له خوا د څلورو فرانسوي عسکرو د وژلو په غبرګون کی یی د عسکرو د چټک ایستلو پریکړه کړی، بلکی داسی استدلال یی وکړ چی فرانسوي عسکرو د افغان ځواکونو په روزنه کی فوق العاده ښه کار کړی دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ